امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه

# مدیریت حوادث

۱۱ الی ۱۶ دلو ۱۴۰۴

## شماره یکصدو چهل و یکم



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د سولیډرټي انټرنیشنل (SI) او هنډیکپ انټرنیشنل (HI) مؤسسو ترمنځ د (۷۲۲،۶۵۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو درې اړخیزه تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د سولیډرټي انټرنیشنل (SI) مؤسسې د عملیاتي برخې له عمومي مرستیال محترم مقبول حسین او د هنډیکپ انټرنیشنل (HI) مؤسسې له سرپرست محترم شینکه فرنبنډو او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۶ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو درې اړخیزه تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب، راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووېل او زیاته یې کړه، چې خپله پروژه دې ژر او په پوره شفافیت سره ترسره کړي...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د انجمن نه انلوس مؤسسې له مرستیال سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د انجمن نه انلوس مؤسسې له مرستیا محترم فیضان احمد کاکړ سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۳ نېټه وکتل...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د (TSDO) مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د (TSDO) مؤسسې له رئیس محترم نوید احمد او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۳ نېټه وکتل...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) د آسیایي برخې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له سیمه ییز رئیس, ښاغلي سمیر سودیر وانمالی، په افغانستان کې...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د سولیډرټي انټرنیشنل (SI) او هنډیکپ انټرنیشنل (HI) مؤسسو ترمنځ د (۷۲۲،۶۵۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو درې اړخیزه تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د سولیډرټي انټرنیشنل (SI) مؤسسې  د عملیاتي برخې له عمومي مرستیال محترم مقبول حسین او د هنډیکپ انټرنیشنل (HI) مؤسسې له سرپرست محترم شینکه فرنبنډو او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۶ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو درې اړخیزه تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب، راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، چې خپله پروژه دې ژر او په پوره شفافیت سره ترسره کړي، همدارنګه ترابي صاحب وویل، چې همکار بنسټونه دې د طبیعي پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې بې له ځنډه اړونده سیمې ته له مورډ سره په همغږۍ ځان رسوي ترڅو د پېښې له امله زیانمنو شویو ته پر وخت رسېدنه شوې وي.

په عین حال کې، د یادو بنسټونو راغلو پلاوو د خپلو پلي کېدونکو پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او د دې ادارې لوی رئیس ته یې د خپلو پروژو د شفافیت او چټکتیا په اړه ډاډ ورکړ.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د درې واړو لوریو ترمنځ ټولټال د اوه سوه او دوه ویشت زره او شپږ سوه او پنځه پنځوس (۷۲۲،۶۵۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه. چې له مخې به یې، د بامیان ولایت په یکولنګ ولسوالۍ کې به سولیډرټي انټرنیشنل مؤسسه له اقلیم سره سمون لرونکو ۳،۰۰۰ نیالګیو کینول، د یادې ولسوالۍ په شپړو کلیو کې مستحقو کسانو ته ۸۴۰ کیلو د ځنګلي واښو د تخمونو وېشل، ۲۵۰ کورنیو هرې یوې ته یو کیلو د بېلابېلو سبزیجاتو تخمونو وېشل، د پېښو د خطرونو د کمولو په موخه د وقایوي پروژو پلي کول، د طبیعي پېښو د خطرونو پر وړاندې د ټولنې د ظرفیت لوړول او د زیانمنونکو سیمو ارزول همدارنګه د هنډیکپ انټرنیشنل مؤسسه به د یاد ولایت په دې ولسوالۍ کې د معلولیت لرونکو کسانو ارزول، معلولیت لرونکو وګړو ته د پېښو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی ورکول، ملولیت لرونکو وګړو ته د مناسبو وسایلو برابرول، د پروګرامونو د پلي کولو لپاره معلولینو ته د موټر د کرایې ورکول، د معلولو کسانو کورنیو ته ارزښتمنې مشورې ورکول او معلولیت لرونکو کسانو ته به د طبیعي پېښو د خطرونو په اړه معلومات ورکړل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د انجمن نه انلوس مؤسسې له مرستیال سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د انجمن نه انلوس مؤسسې له مرستیا محترم فیضان احمد کاکړ سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۳ نېټه وکتل او د پروژو د پلي کولو په برخه کې یې د لا ډېرو همغږیو د اغېزمنتیا په اړه خبرې وکړې.
محترم ترابي صاحب د یادې مؤسسې راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل، او زیاته یې کړه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره له بېلابېلو مؤسسو سره، چې په بېلابېلو برخو کې له افغان ولس سره مرستې کوي نږدې همکارۍ لري او له هغوی سره په دې برخه کې بې له ځنډه هوکړه لیکونه لاسلیک کوي او همدارنګه یې د پلي کېدونکو پروژو اړوند چارې پر وخت ترسره کوي. نو د همدې موضوع په پام کې نیولو سره او د نوي میلادي کال له پیلېدو سره سم، موږ په اړونده برخه کې د مرستو رسولو په موخه د خلکو د اړتیاوو او لومړیتوبونو یو لېست ترتیب کړی دی، چې له تاسو سره به یې شریک کړو، تر څو وکولای شئ یاد لیست د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره له اړوندو تمویل کوونکو سره شریک کړئ، څو له پلي کېدونکو پروژو څخه مستحق خلک ګټه اخیستونکي شي.
په همدې حال کې، د انجمن نه انلوس مؤسسې مرستیال د دې ادارې له لوی رئیس څخه خیریه کارونو ته د پروخت رسېدنې او په دې اداره کې یې د خپلو کارونو د ژر خلاصېدو له امله مننه وکړه او د مستحقینو د لومړیتوبونو لپاره یې لیست برابرول هم د مؤسسو او هم د تمویل کوونکو د کارونو د آسانتیا لپاره مهم وباله او د خپلې مؤسسې د فعالیتونو په اړه یې معلومات وړاندې کړل، نوموړي همدارنګه د خپلو پلي کېدونکو پروژو د پلي کولو برخه کې د شته ستونزو یادونه وکړه او له محترم ترابي څخه یې په دې برخه کې د پوره همکاریو غوښتنه وکړه.
په پای کې، هغه ډالۍ چې د دې ادارې د لوی رئیس له لوري محترم فیضان احمد کاکړ ته د هغوی د بشردوستانه کړنو د ستاینې په موخه په پام کې نیول شوې وه ورکړل شوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د (TSDO) مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د (TSDO) مؤسسې له رئیس محترم نوید احمد او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۳ نېټه وکتل او د پروژو د پلي کولو په برخه کې یې د دوه اړخیزو همغږیو د اغېزمنتیا په اړه خبرې وکړې.
محترم ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل، او زیاته یې کړه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د پېښو له امله زیانمنو شویو او مستحقو کورنیو ته رسېدنه او په دې برخه کې له بېلابېلو مؤسسو سره همغږۍ لري. نو د همدې موضوع په پام کې نیولو سره او د نوي میلادي کال له پیلېدو سره سم، موږ په اړونده برخه کې د مرستو رسولو په موخه د خلکو د اړتیاوو او لومړیتوبونو یو لېست ترتیب کړی دی، چې له تاسو سره به یې شریک کړو، تر څو وکولای شئ یاد لیست د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره له اړوندو تمویل کوونکو سره شریک کړئ، څو له پلي کېدونکو پروژو څخه ور خلک ګټه اخیستونکي شي.

همدارنګه، ترابي صاحب راغلي پلاوي ته وویل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې له مؤسسو سره پر وخت او بې له ځنډه هوکړه لیکونه لاسلیک کړي او د دې ادارې اړوند ولایتي ریاستونه هم له مؤسسو سره د پروژو پلي کولو برخه کې همکارۍ کوي.

په همدې حال کې، د (TSDO)مؤسسې رئیس د دې ادارې له لوی رئیس څخه د کارونو د آسانتیا لپاره د یاد لیست د برابرولو له امله منننه وکړه او د خپلو پلي شویو، تر کار لاندې او راتلونکو پروژو په اړه یې معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدارنګه د خپلو پلي کېدونکو پروژو د پلي کولو برخه کې د شته ستونزو یادونه وکړه او له محترم ترابي څخه یې په دې برخه کې د پوره همکاریو غوښتنه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) د آسیایي برخې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له سیمه ییز رئیس، ښاغلي سمیر سودیر واماّلي، په افغانستان کې د WFP د دفتر له رئیس، ښاغلي جان آیلیف او ورسره مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۴ نېټه وکتل او د دواړو لوریو ترمنځ د راتلونکو ګډو پروګرامونو په اړه یې خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب د WFP پلاوي ته ښه راغلاست ووېل او دا سازمان یې د یادې ادارې له ښو همکارانو څخه وباله. نوموړي ووېل چې د نقشې‌لارې د سند له لاسلیک وروسته، همکارۍ د پخوا په پرتله زیاتې شوې دي، او د هغو اسانتیاوو په نظر کې نیولو سره چې د مرستندویه بنسټونو لپاره برابرې شوې دي، تمه ده چې دا همکارۍ لا پیاوړې شي. هغه همدارنګه ټینګار وکړ چې د هېواد د زیانمنتیا او د طبیعي پېښو د احتمال له امله، د بېړنیو مرستو تر څنګ د ادارې تمرکز د بنسټیزو وقایوي پروژو پر پلي کېدو دی، او له WFP څخه یې په دې برخه کې د همکارۍ هیله څرګنده کړه.

د ادارې لوی رئیس د مرستو پر عادلانه وېش هم ټینګار وکړ او د سازمان پلاوی یې وهڅاوه چې د خاص ارزګان ولسوالۍ څخه تر خاک‌افغان ولسوالۍ پورې د پاتې ۲۵ کیلومتره سړک د جوړولو چارې بشپړې کړي.

په همدې حال کې، ښاغلي سمیر د هېواد د بشپړې امنیتي اسانتیا له برابرولو څخه منننه وکړه او دا یې د خلکو د اغېزمنې رسېدنې لپاره یو مثبت ګام وباله. هغه دا اداره د خپل نږدې کاري شریک په توګه یاد کړه او د دواړو بنسټونو ترمنځ همکاري او همغږي یې مهمه وبلله. نوموړي زیاته کړه چې که څه هم د تمویلوونکو له لوري افغانستان ته ځانګړې شوې بودجه کمه شوې ده، خو موږ د بېړنیو مرستو د برابرولو او د اوږدمهاله پروژو د پلي کېدو په برخه کې بشپړه ژمنتیا لرو او دا اړتیاوې به له تمویلوونکو سره شریکوو.

په همدې توګه، دواړو لوریو خلکو ته د لا ښه رسېدنې د څرنګوالي، د سیمه ییزو وړتیاوو د لوړولو، د وقایوي پروژو د پلي کېدو او نورو مهمو موضوعاتو په اړه بحث  او مشورې وکړې او د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا یې ټینګار وکړ. په پای کې، د محترم ترابي صاحب له لوري ښاغلي سمیر ته یوه ډالۍ هم ورکړل شوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي هوساينې نړيوالې مؤسسې (IRW) ترمنځ د (۲۸۲,۶۹۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، د اسلامي هوساينې نړيوالې مؤسسې د پروګرامونو له مدير محترم نعمت الله اکبري سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.
محترم ترابي صاحب، راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست وويلو ترڅنګ وويل، چې خپله پلي کېدونکې پروژه دې ژر او په پوره شفافيت سره ترسره کړي، ترڅو ورځخه مستحقې کورنۍ پر وخت او ښه ډول سره ګټه اخيستونکې شي.
په همدې حال کې، د يادې مؤسسې د پروګرامونو مدير محترم نعمت الله اکبري د خپلې پلي کېدونکې پروژې په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل او ژمنه يې وکړه، چې خپله پروژه به پر وخت او پوره شفافيت سره ترسره کوي.
د يادونې وړ ده، چې په پای کې د يادې ادارې او موسسې له لوري ټولټال د دوه سوه او دوه اتيا زره او شپږ سوه او څلو نوي (۲۸۲,۶۹۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه. چې له مخې به يې، ياده مؤسسه د ننګرهار ولايت په جلال آباد ښار کې ۷۵۳ مستحقو کورنيو هرې يوې کورنۍ ته، د غور ولايت په پسابند ولسوالۍ کې ۷۱۷ هرې مستحقې کورنۍ، د باميان ولايت په مرکز کې ۱،۰۵۶ هرې مستحقې کورنۍ ته او د کونړ ولايت په سرکانو او نرنګ ولسواليو کې ۷۰۰ مستحقو کورنيو هرې يوې کورنۍ ته د خوراکي توکو د اخيستلو په موخه ۵،۰۰۰ افغانۍ نغدي پيسې ووېشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د حقوقو او آزاديو او د بشري مرستو (IHH) مؤسسې ترمنځ د د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، د حقوقو او آزاديو او د بشري مرستو (IHH) مؤسسې له رئيس محترم سليمان ايپلي او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.
محترم ترابي صاحب، راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست وويلو ترڅنګ وويل، چې خپله پلي کېدونکې پروژه دې د وړ خلکو لپاره پر وخت او د ژمي موسم له ختمېدو مخکې او همدارنګه په پوره شفافيت سره ترسره کړي، ترڅو ورځخه اړوند کورنۍ پر وخت او ښه ډول سره ګټه اخيستونکې شي.
په همدې حال کې، د يادې مؤسسې رئيس محترم ايپلي د خپلې پلي کېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ژمنه يې وکړه، چې خپله پروژه به بې له ځنډه او پوره شفافيت سره ترسره کوي.
د يادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د شل زره (۲۰,۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه. چې له مخې به يې، د سمنګان ولايت په خلم ولسوالۍ کې ۵۲۰ مستحقو کورنيو ته ۳۲۰ کيلو ګرامه د ډبرو سکاره ووېشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډاکار مؤسسې ترمنځ د (۴۴۶،۸۴۱) ډالرو په ټولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ډاکار مؤسسې له رئیس ښاغلي پیدر تورننګ سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې لیدنه کې، محترم ترابي صاحب د ګډو همکاریو پر ارزښت، د پروژو د پلي کېدو پر شفافیت او د مستحقو کورنیو اړتیاوو ته پر ځانګړې پاملرنې خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره به د نړیوالو مؤسسو په همکارۍ پروژې پر وخت او په اغېزمن ډول پلي کړي.

همدارنګه، ښاغلي پیټر تونک د یادې ادارې له همکاریو مننه وکړه او د روانې پروژې په اړه د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ وویل چې د پروژې پاتې برخې به هم د بشپړې همغږۍ او د کیفیتي معیارونو په پام کې نیولو سره ډېر ژر پلي شي، او دغه مؤسسه ژمنه ده چې د دې پروژې مثبتې پایلې به مستحقو خلکو ته په ښکاره ډول ورسېږي.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ د څلور سوه او شپږ څلوېښت زره او اته سوه او یو څلوېښت (۴۴۶،۸۴۱) ډالرو په ټولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه  لاسلیک شوه.

د دې تفاهم‌نامې له مخې به، یاده مؤسسه د کونړ ولایت ۲،۲۳۴ زلزله‌ځپلو کورنیو، د ننګرهار ولایت ۷۰۰ کورنیو او د لغمان ولایت ۶۶ کورنیو ته هرې یوې ته دوه روغتیایي بستې (یوه بسته چې ۲۱ توکي لري او بله بسته چې ۷ روغتیایي توکي لري) ووېشي.

همدارنګه، دغه مؤسسه به په کونړ ولایت کې ۲۳۵ باب تشنابونه او حمامونه او په ننګرهار ولایت کې هم ۲۳۵ باب تشنابونه او حمامونه جوړ کړي.

سربېره پر دې، په کونړ ولایت کې د ۲۵۵ کورنیو او په ننګرهار ولایت کې د ۱۰۰ کورنیو لپاره به د شګو د اوبو تصفیه کوونکي سیستمونه جوړ کړي.

په همدې حال کې، په کونړ ولایت کې ۸۰ کورنیو او په ننګرهار ولایت کې ۲۵ کورنیو ته د کم‌توانه اشخاصو لپاره د تشنابونو ځانګړې څوکۍ وېشل کېږي، او په کونړ ولایت کې به ۱۵ د اوبو څاګانې او په ننګرهار ولایت کې به ۵ د اوبو څاګانې ترمیم کېږي.

همدارنګه، په کونړ ولایت کې ۲۵۵ د اوبو سرچینې، په ننګرهار ولایت کې ۱۵۵ او په لغمان ولایت کې ۱۰۰ د اوبو سرچینې کلورین‌کاري کېږي، او د کونړ ولایت د ژیړۍ بابا د پنډغالي ته به د ۷۹۰ کورنیو لپاره د دوو میاشتو د مودې لپاره د څښاک اوبه انتقالېږي.

سربېره پر دې، په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې به څلور نورې د اوبو شبکې هم ترمیم شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان د اجتماعي پرمختیا ټولنه (SADA) مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغانستان د اجتماعي پرمختیا ټولنه (SADA) مؤسسې له اجرائیوي رئیس محترم رحمت الله علیزي او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب، راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل، چې خپله پلي کېدونکې پروژه دې د ور خلکو لپاره پر وخت او پوره شفافیت سره ترسره کړي، ترڅو ورڅخه اړوند کورنۍ پر وخت او ښه ډول سره ګټه اخیستونکې شي.

په همدې حال کې، د یادې مؤسسې اجرائیوي رئیس محترم علیزي د خپلې پلي کېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ژمنه یې وکړه، چې خپله پروژه به پر وخت او پوره شفافیت سره ترسره کوي.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه. چې له مخې به یې د یونسیف سازمان له لوري ۱،۶۲۴ کورنیو هرې یوې کورنۍ ته د ۶۰ ډالرو معادل افغانۍ نغدي مرستې ووېشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوې اداري ودانۍ پرانیستنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، کندهار ولایت ته سفر وکړ او په ځانګړو مراسمو کې یې د کندهار ولایت د ښار جوړونې د محترم رئیس مولوي عبدالمتین سعید، د ترانسپورټ د محترم رئیس مولوی ادم، د اقتصاد ریاست د محترم رئیس مولوي احمد، د یاد ولایت د تجارت او سوداګریزو خونو د محترم رئیس حاجي عبدالاحد اکا، د دې ولایت د محترم مستوفي الحاج ملا حکمت الله اخند، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ محترم رییس قاري صاحب عبدالسلام، د نساجۍ فابریکې مسؤل مولوي صابر، مولوي ملا عظام د کندهار ولایت د مقام ویاند، یو شمېر نورو سوداګرو، مخورو سپین ږیرو، مشرانو، د رسنیو د مسؤلینو او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لپاره نوې جوړه شوې اداري ودانۍ د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۷ نېټه پرانیسته او رسماً یې ګټې اخیستنې ته وسپارله.

په دې غونډه کې، محترم ترابي صاحب ټینګار وکړ، چې د مناسب کاري چاپېریال درلودل کولای شي د خدمتونو د وړاندې کولو پر کیفیت او چټکتیا مستقیم او څرګند اغېز ولري. د همدې لپاره، موږ هڅه وکړه هغه بودجه، چې په تېرو حکومتونو کې یوازې د یو ګدام د جوړولو لپاره ځانګړې شوې وه، تعدیل کړو او درېپوړیزه ودانۍ جوړه کړو، چې ترځمکې لاندې یو پوړ یې د معیاري ګدام لپاره دی او دوه پوړونه یې د اداري ودانۍ لپاره دي. دا پروژه ټولټال د ۱۳ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړه شوې او په څلورو نورو ولایتونو سمنګان، کندهار، کاپیسا، خوست او میدان وردګ کې هم په ورته ډیزاین ودانۍ جوړې شوې دي.

نوموړي د کندهار خلکو ته د دې ودانۍ د مبارکۍ د ویلو ترڅنګ وویل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د خلکو د خدمت او د مرستو د همغږۍ په موخه تاسیس شوې ده، او دا ودانۍ کولای شي د خدمتونو وړاندې کولو زمینه نوره هم آسانه کړي، د ځانګو ترمنځ همغږي زیاته کړي او د ورځنیو اداري فعالیتونو د ترسره کولو امکانات پراخ کړي.

ورته مهال، د کندهار ولایت د یادو ادارو مسؤلینو په خپل وار سره د یادې ودانۍ پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل، چې دا ودانۍ به د کارکوونکو لپاره د پام وړ آسانتیاوې رامنځته کړي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ تخنیکي غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ د یادې ادارې په انګو کې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۶ نېټه یوه تخنیکي غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د ۲۰۲۶ میلادي کال لپاره د بشري مرستو د همغږۍ څرنګوالي، د اړمنو کسانو د دقیق او هدفمندې پېژندنې او همدارنګه د مرستو رسولو د بهیر د ښه والي لپاره د نوو آسانتیاوو د رامنځته کولو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تخنیکي کمېټې مسؤل، محترم برهان‌الدین شینواري، ډاډ ورکړ، چې دا اداره د بشري پروګرامونو د پلي کېدو په برخه کې شفافیت او چټکتیا ته ژمنه ده او زیاته یې کړه چې په هېواد کې ټولې بشري مرستندویه بنسټونه باید د غوره پایلو د ترلاسه کولو لپاره خپل فعالیتونه په ګډه او همغږۍ سره پر مخ یوسي.
بلخوا، مېرمن پاولین ایلاف د خوړو نړیوال پروګرام د روان وضعیت، بشري پروګرامونو او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د اړمنو کسانو د دقیقې پېژندنې په برخه کې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې رول او همکارۍ حیاتي او ارزښتناکې وبللې.
په پای کې، دواړو لورو د ګډو بشري همغږیو پر دوام او پیاوړتیا ټینګار وکړ او غونډه په بشپړې هوکړې سره پای ته ورسېده.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم ادارې (ATRA) ترمنځ تخنیکي ناسته ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم ادارې (ATRA) ترمنځ د عامه پوهاوي د کچې لوړولو او اړینو خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي د زیاتوالي لپاره د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا په موخه، تخنیکي ناسته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې ترسره شوه.
په دې ناسته کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوري د اطلاعاتو او نشراتو رئیس, محترم حافظ محمد یوسف حماد، د تخنیکي کمېټې مسؤل, محترم برهان‌الدین شینواري او د مقام د دفتر د انسجام چارو آمر, ملا سید احمد عثماني، او د ATRA ادارې له لوري تخنیکي مرستیال, عطا محمد یاري، د سیستمونو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس, محترم عرفان‌الله صافي او د جوازونو د صادرولو آمر عبدالقادر صادق ګډون درلود.
په دې ناسته کې د بېړنیو حالاتو پر مهال خلکو ته د لنډو پیغامونو (SMS) له لارې د بېړنیو خبرتیاوو د لېږلو، د چټک لاسرسي لپاره د وړیا او لنډې بېړنۍ شمېرې د جوړولو او فعالولو، او همدارنګه د طبیعي پېښو د رامنځته کېدو پر مهال د مخابراتي شرکتونو د پر وخت د اطلاع رسونې پر رول بحث او د نظرونو تبادله وشوه.
همدارنګه، دواړو لوریو د تخنیکي همغږیو پر پیاوړتیا، د چټک خبرتیا لپاره د اغېزمن میکانیزم پر جوړولو او د هېواد د مخابراتي شبکو د ظرفیتونو پر اغېزمنې کارونې ټینګار وکړ او دا اقدامات یې د طبیعي پېښو له امله د ځاني او مالي زیانونو د کمولو لپاره مهم ګام وباله.
د ناستې په پای کې، د دې ډول تخنیکي ناستو پر دوام او د چټک خبرداري سیستم او وړیا بېړنیو خدمتونو د اغېزمن پلي کېدو لپاره د عملي طرحو پر وروستۍ کولو هوکړه وشوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۶ نېټه د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندې لازم تصمیمونه ونیول سول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۱،۰۰۰ خانواده عودت کننده اخراج اجباری کمک‌های غذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با هماهنگی کمیته رسیدگی به مهاجرین، برای ۱۰۰۰خانواده و حوات کننده اخراج اجباری از کشورهای همسایه و مستحقین در مربوطات ولسوالی‌های مختلف آن ولایت، بتاریخ ۱۷ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

این کمک‌ها در حضور محترم الحاج قاری بختیار معاذ والی ولایت لغمان، قاری خیرمحمد غازی رئیس آمادگی مبارزه با حوادث و سایر مسوولان محلی به هر خانواده ۲۵ کیلوگرام آرد، ۱۲ کیلوگرام خرما، ۵ لیتر روغن، ۱۰ کیلوگرام برنج و یک بسته کامل شامل ۱۲ قلم مواد غذایی توزیع گردید.

رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت قاری خیرمحمد غازی اظهار داشت که این کمک‌ها آخرین کمک‌ها نبوده و کمیته رسیدگی به مهاجرین تلاش می‌نماید تا علاوه بر خانواده‌های یادشده، به سایر خانواده‌های نیازمند نیز در بخش‌های مختلف کمک‌های لازم را فراهم نماید.

قابل ذکر است که برای این تعداد خانواده آگاهی عامه در مورد خطرات حوادث نیز ارایه گردید.

خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها از این اقدام ابراز خرسندی نموده و از مسئولین امارت اسلامی افغانستان به خاطر رسیدگی به موقع به مشکلات مهاجرین قدردانی کردند و افزودند که این کمک‌ها بخشی از مشکلات عاجل زندگی آنان را کاهش خواهد داد.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک پر بنسټ، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۲ نېټه ۱۵ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې،هرې کورنۍ ته له ۷,۵۰۰ څخه تر ۱۸,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال یو سل او اووه نوي زره او پنځه سوه (۱۹۷,۵۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۲۰۷ خاواده عودت‌کننده اخراج اجباری کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان، برای ۲۰۷ خانواده عودت کننده که به‌گونه اجباری از کشورهای همسایه، ایران و پاکستان، اخراج و در مرکز ولایت بامیان مستقر گردیده بودند، بتاریخ ۱۲ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

این کمک‌ها با حضور رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان، نمایندگان مقام ولایت و ریاست هلال احمر افغانی توزیع شد. بر اساس این برنامه، به هر فامیل یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۵ کیلوگرام شکر، نیم کیلوگرام چای سیاه و یک بسته صحی توزیع گردید.

مسوولان محلی ضمن تأکید بر تداوم همکاری‌ها، هدف از این مساعدت‌ها را رسیدگی فوری به نیازهای اساسی مهاجرین عودت‌کننده و کاهش مشکلات معیشتی آنان عنوان کرده و اطمینان دادند که تلاش‌ها برای بسیج کمک‌های بیشتر و حمایت از خانواده‌های نیازمند ادامه خواهد یافت.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۷ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د انټرساس موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه د دې ولایت په سروبي ولسوالۍ کې ۱۵۷ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته ۵,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال نه سو او لس زره او شپږ سوه (۹۱۰,۶۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ۴۰ کیلومتر سرک‌های فرعی در ولسوالی بهسود ولایت میدان وردگ که به‌دلیل برف‌باری شدید مسدود شده بودند به‌روی رفت‌وآمد بازگشایی گردید




به هدایت مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان‌وردگ با هماهنگی مقام ولایت، در ولسوالی بهسود آن ولایت، ۴۰ کیلومتر سرک‌های فرعی ساحه دشت‌مزار را که در اثر بارش سنگین برف مسدود گردیده بودند، بتاریخ ۱۲ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق از برف پاک‌سازی نموده و دوباره به‌روی رفت‌وآمد مردم و وسایط نقلیه باز نمود.

در ساحه دشت‌مزار ۷ حوزه بزرگ وجود دارد که میزان برف‌باری در آن‌ها از ۱ متر و ۲۰ سانتی‌متر تا ۱ متر و ۵۰ سانتی‌متر می‌رسید. در ادامه تلاش‌های مسئولان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان‌وردگ، با استفاده از ۸۰۰ لیتر تیل اختصاص‌یافته از سوی مقام اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، سرک‌های فرعی برای عبور مردم و وسایط نقلیه بازگشایی گردید.

مولوی احمدشاه ذهین، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردگ، تأکید کرد که همراه با تیم کاری خود در سایر ولسوالی‌ها نیز سرک‌های فرعی را که با مشکلات مشابه روبه‌رو هستند، به‌روی رفت وآمد مردم و وسایط نقلیه باز خواهند کرد.

باشندگان محل نیز از تلاش‌های ریاست آمادگی مبارزه با حوادث در راستای رسیدگی به مشکلات مردم، ابراز سپاس و قدردانی نمودند.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د شیرزاد ولسوالۍ پاس پټله کلي ۵۳ کورنیو ته، چې د تېرو ورځو د واورې زیات ورښت له امله له خطر سره مخ وې، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۲ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.




د مرستو په دې بهیر کې د مسولینو په شتون کې، هرې مستحقې کورنۍ ته د خوراکي توکو یوه بسته، چې ۱.۵ غوړي، ۱ کیلو مالګه، ۵ کیلو سیله وریجې، ۲ پاکټه ۴۰۰ ګرامه پاستا، ۱ کیلو سره مسور دال، ۴۰۰ ګرام چای، ۲ پاکټه ۴۰۰ ګرامه فول مدامس، ۳ پاکټه ۱۷۰ ګرامه سپینه ټونا کبان، ۲ پاکټه ۴۰۰ ګرامه نخود، ۲ پاکټه ۴۰۰ ګرامه سره لوبیا، ۱ کیلو میده غنم، ۴۰۰ ګرامه د رومیانو روب، ۵ لیتره غوړي، ۱۰ کیلو سیله وریجې، ۶ کیلو خرما، ۵۰ کیلو اوړه، یو کوچنی حفظ الصحې کېټ او یوه بسته البسه، چې جرابې، بوټان، خولۍ او زنانه لباس په کې شامل وو، ووېشل شول.

مرسته اخیستونکو کورنیو د د دې مرستو ترلاسه کولو په پار د خوښي څرګندولو ترځنګ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه وکړه او د دوامدارو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس په لارښوونه، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د طبیعي پېښو له امله د ۵ تنو شهیدانو ورثه او ۲ تنو ټپیانو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۳ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.
د مرستو په دې بهیر کې د مسولینو په شتون کې د هر شهید کورنۍ ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ او هر ټپي کس ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال یو سل او شل زره (۱۲۰,۰۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
مرستې ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د مننې او خوښي څرګندونه وکړه، او ویې ویل چې یاد ریاست تل زیانمنو ته پر وخت رسېدنه کړې ده.

## په فراه ولایت کې د کډوالو د شهرک لپاره د خاورین بند د جوړولو پروژه پرانیستل شوه



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سېلابونو له احتمالي خطرونو څخه د مخنیوي او د کډوالو د شهرک د خوندي توب په موخه د یو خاورین بند د جوړولو پروژه د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۴ نېټه رسما پرانیستله.
د دې پروژې د پرانیستنې مراسمو کې د یاد ریاست محترم رئیس الحاج مولوي محمد اسرائیل سیار، سیمه ییزو اوسېدونکو او د اړوندو ادارو مسؤلینو شتون درلود.
د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، یاده پروژه د ولایتي بیړنۍ کمېټې د ماشینرۍ او د تېلو او نورو اړینو مصارفو لپاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د درې سوه زره (۳۰۰،۰۰۰) افغانیو بودجې په همکارۍ د ۵۲۰ متره اوږدوالي او ۲ متره لوړوالي په لړلو سره تطبیق کېږي، چې په مستقیم ډول سره به د راستنېدونکو ۱۰۸ سرپناه وې د سېلابونو له خطرونو څخه خوندي شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل کار پاک‌سازی سیلبرها را در آن ولایت رسماً آغاز کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل در مرکز آن ولایت، با استفاده از بودجه این اداره و ماشین‌آلات ریاست فواید عامه، بتاریخ ۱۳ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کار پاک سازی سیلبرها را آغاز کرده است.
این روند پاک‌سازی در حضور رئیس محترم آمادگی مبارزه با حوادث ولایت و مسئولان محلی، با استفاده از یک عراده اسکواتر و دو عراده دَمپ‌ترک آغاز گردیده است.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۷ اجبارې ایستل شویو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




په اجباري توګه را ایستل شویو ته د مرستو په برخه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله‌تعالی د حکم د تطبیق په موخه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس د لارښوونې له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه رایستل شویو ۱۴۷ کورنیو ته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۴ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، یوه د خوراکي توکو بسته چې پکې ۶.۵ لیټره غوړیو، یو کیلو مالګې، ۱۵ کیلو سپینې وریجې، دوه بستې ۴۰۰ ګرامه پاستا، یو کیلو سور دال، ۴۰۰ ګرامه چای، دوې بستې ۴۰۰ ګرامه فول مدامس، درې بستې ۱۷۰ ګرامه د ماهي کنسرو، دوې بستې ۴۰۰ ګرامه نخود، دوې بستې ۴۰۰ ګرامه سره لوبیا، ۴۰۰ ګرامه روب، ۶ کیلو خرما، ۷ کیلو مکروني او ۵۰ کیلو اوړو شتون درلود او دوه بستې ژمنی جامې ووېشل شوې.
د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې قدرداني وکړ او د ورته مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## په لغمان ولایت کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري رضاکارانو ته یو ورځنۍ زده کړه ییز پروګرام ترسره شو

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کې د دې اداري رضاکارانو ته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۴ نېټه یو ورځنۍ ځانګړی پروګرام ترسره کړ.
د دې پروګرام موخه د رضاکارانو د ظرفیت لوړول، د پېښې د رامنځته کېدو پر مهال د همغږۍ قوي کېدل او اغېزمن غبرګون وو، په دې پروګرام کې ۱۶ نوي رضاکاران وګومارل شول چې د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې فعالیت کوي، هغوی ته د رضاکارۍ قوانین او اهمیت، اساسي مسؤلیتونه، د پېښې پر وخت د اقدام کولو لارې، له مسؤلو بنسټونو سره د اغېزمنې همکارۍ طریقه او د NDMIS  سیستم اړوند اساسي معلوماتو په اړه زده کړې ورکړل شوې.
د پروګرام په پای کې، مسؤلینو د پېښو د زیانونو د کمولو، د آمادګۍ د زیاتوالي او د ښه عمل کولو ورته پروګرامونو د نیول کېدو په اهمیت ټینګار وکړ.
همدارنګه نویو ګمارل شویو رضارکارانو ژمنه وکړه، چې د ورکړل شویو زده کړو له مخې به د پېښو د رامنځته کېدو پر وخت له مسؤلو بنسټونو سره فعاله همکاري ولري.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۱,۵۰۰ خانواده کمک نقدی توزیع کرد

براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ورلد ویژن امضا شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با همکاری این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۴ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۱,۵۰۰ خانواده نیازمند در ولسوالی خواجه سبزپوش آن ولایت کمک نقدی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده با حضور مسئولان، معادل ۸۰ دالر در دو نوبت، ۵,۲۹۶ افغانی توزیع شد، که مجموعاً ۳,۹۷۲,۰۰۰ افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.




## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نور الدین ترابي د لارښوونې له مخې، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ولایتي بیړنۍ کمېټې سره په همغږۍ ۸۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره او ۰.۵ کیلو چای ووېشل شو.

د مرستو د وېشلو په لړ کې، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار وکړ، چې د اسلامي امارت د نافذه قوانینو په چوکاټ کې به مستحقو کورنیو ته د هر ډول مرستو د کولو لړۍ دوام ولري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۱,۲۲۶ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی کمک نقدی ارائه کرد




براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ورلد ویژن امضا شده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس با حمایت این مؤسسه، برای ۱۲۲۶ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی در ولسوالی‌های بالامرغاب، غورماچ، مقر و سنگ‌آتش پس از انجام بررسی‌های لازم، بتاریخ ۱۴ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک نقدی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده با حضور مسئولان مبلغ ۵,۵۲۲ افغانی پرداخت شد که مجموعاً شش میلیون و هفت‌صد و شصت و نه هزار و نهصد و هفتاد و دو(۶,۷۶۹,۹۷۲) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته است.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۷۲۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۷۲۰ مستحقو کرونیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ غنم ووېشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د مرسته ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د تر لاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او د ورته مرستو د دوام غوښتونکې شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۵۰ خانواده مستحق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، در هماهنگی با ریاست انکشاف دهات، در چارچوب تداوم برنامه‌های خویش، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۵ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی را برای ۱۵۰ خانواده مستحق آن ولایت توزیع نمود.
در این روند، در حضور مسئولین، به هر خانواده ۱ بوری آرد، ۱ بوری گندم و از سوی ریاست انکشاف دهات برای هر خانواده یک بسته صحی توزیع گردید.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۷ زیانمنو کورنیو ته د خوراکي او غیری خوارکي توکو مرستې ووېشلې



د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یاد ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ د وروستي واورې ورېدو له امله ۱۷ زیانمنو کورنیو ته له سروې ورسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۵ نېټه د خوراکي او غیری خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ۵۰ کیلویي غنم، ۵ کیلو بوره، یو عدد د یونیسف روغتیایي کیټ، دوه جلده د یونیسف روغتیاساتنې بروشرونه ووېشل شول، همدارنګه لوستو کسانو ته په یادو مرستو سربېره له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې ۳ جلده معلوماتي بروشرونه هم ووېشل شول.
د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ محترم رئیس د مرستو د وېشلو پر مهال ټینګار وکړ، چې زیانمنو کورنیو ته به په راتلونکي کې هم ورته مرستې دوام ولري.

## د کابل ولایت له پېښو د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۱ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د انټرساس مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کابل له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د انټرساس مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د ده سبز ولسوالۍ په بابه قشقار کلي کې ۱۴۱ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۶ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د دوه یم پړاو ۵،۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اته سوه او اوه لس زره او اته سوه (۸۱۷۸۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له یاد ریاست او مؤسسې څخه د دوی د هڅو او پر وخت رسېدنې له امله خوښي څرګنده کړه او له هغوی څخه یې مننه وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۱۴۰ خانواده مستحق بسته‌های صحی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان، در ولسوالی جبل‌السراج آن ولایت، به‌منظور پیشگیری از امراض، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۵ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق بسته‌های صحی را برای ۱۴۰ خانواده مستحق توزیع نمود.
در این روند، در حضور مسئولین، به هر خانواده ۱ بسته صحی شامل چندین قلم مواد بهداشتی توزیع گردید.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان تأکید کرد که در آینده نیز، در هماهنگی با مؤسسات همکار، روند ارائه خدمات لازم به خانواده‌های مستحق ادامه خواهد داشت.

## کشف و خنثی سازی مواد منفجر ناشده در مرکز ولایت فراه




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با حمایت تیم فنی مؤسسه ماین پاکی DRC ، در حوزه پنجم مرکز آن ولایت، مواد انفجاری باقی‌مانده از جنگ‌های گذشته را بتاریخ ۱۶ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کشف و به‌طور ایمن از بین برد.
در جریان این عملیات، یک فیر مُرمی هاوان، سه فیر مُرمی راکت و یک عدد فیوز نوع PD-MJ1 که زندگی ساکنان محلی را در معرض خطر قرار داده بود، به‌طور امن از بین برده شد.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه از مردم خواست که در صورت مشاهده هر نوع مواد انفجاری یا مشکوک، فوراً با مسئولین مربوطه تماس بگیرند تا اقدامات لازم برای از بین بردن آن‌ها به موقع انجام شود.

## کشف و خنثی‌سازی مواد منفجر ناشده در ولایت بغلان

بر اساس تماس شهروندان با شماره عاجل ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به شماره عاجل(۰۷۰۸۶۰۶۰۶۰)، تیم واکنش سریع مؤسسه (MCPA (MCPA–QRT-۰۱ به‌منظور انجام عملیات ماین‌پاکی به قریه نصرت‌مینه، ناحیه پنجم شهر پلخمری ولایت بغلان بتاریخ ۱۶ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق اعزام گردید.

این تیم در جریان عملیات ماین‌پاکی، یک فیر مرمی توپچی (Artillery) و دو فیر بمب دستی (Grenades) را کشف نموده و پس از انتقال مصئون، به‌گونه کامل از بین برد.

پس از تکمیل عملیات، به باشندگان محل در مورد خطرات ماین‌ها و مهمات منفجرناشده آگاهی‌دهی عامه صورت گرفت تا سطح آگاهی مردم بلند رفته و جان و مال‌شان در برابر این تهدیدات محفوظ بماند.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۱۵۲ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه انترساس، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۷ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۱۵۲ خانواده مستحق در قریه مسته‌چینه ولسوالی سروبی این ولایت کمک های نقدی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسؤلین مربوطه، به هر خانواده مبلغ ۵،۸۰۰ افغانی پرداخته شد که در مجموع مبلغ هشت‌صد و هشتاد و یک هزار و شش‌صد (۸۸۱،۶۰۰) افغانی برای خانواده های یادشده اختصاص یافته بود.

قابل یادآوری است که خانواده‌های مستفیدشده، از رسیدگی به موقع ابراز خرسندی نموده و از مسؤلین ریاست و مؤسسه مربوطه صمیمانه قدردانی کردند.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۳ مستحقو کورنیو ته نغدې, خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د RHWO, UNICEF او د IOM سازمانونو په مالي ملاتړ, د دې ولایت اړوند 43 مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۷ نېټه نغدې, خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې, د UNICEF سازمان له لورې یو عدد هایجن کېټ, یو فامیلي کېټ, د ژمنۍ البسې یو کېټ, د RHWO موسسې له لورې چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام(WFP) دی هرې کورنۍ ته 200 کیلو اوړه, 2 کیلو مالګه, 18.2 کیلو غوړي, 25 کیلو دال, 1.5 کیلو د ماشومانو لپاره مغذي مواد او د IOM سازمان له لورې هرې کورنۍ ته 8,500 افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې. چې د نغدو پیسو اندازه ټولټال درې سوه او پنځه شپېته زره او پنځه سوه (365,500) افغانۍ کېږي.

## په کنړ ولایت کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې رضاکارانو ته یو ورځنی زده کړه ییز پروګرام ترسره شو

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کې د دې ادارې رضاکارانو ته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۶ نېټه یو ورځنی ځانګړی پروګرام ترسره شو.

د دې پروګرام موخه د رضاکارانو د ظرفیت لوړول، د پېښې د رامنځته کېدو پر مهال د همغږۍ قوي کېدل او اغېزمن غبرګون وو، په دې پروګرام کې ۱۶ نویو ټاکل شویو رضاکارانو ته چې د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې فعالیت کوي، هغوی ته د رضاکارۍ قوانین او اهمیت، اساسي مسؤلیتونه، د پېښې پر وخت د اقدام کولو لارې، له مسؤلو بنسټونو سره د اغېزمنې همکارۍ طریقه او د NDMIS سیستم اړوند اړین معلومات د پریزینټیشن په ډول وړاندې شول.



## عامه پیغامونه :

1. د زلزلې ځخه وروسته ژر تر ژره د ټېپانو سره مرسته وکړئ
2. همیشه د هر ډول طبیعي او غیرطبیعي پېښو د خطرونود مخنیوې لپاره چمتو اوسئ
3. خیر د خلګو هغه څوک دې چې خلګو ته خیر رسوي (الحدیث)
4. د سیلاب راوتلو په وخت کې د اوبو د جریان ځخه لوړ او خوندي ځای ته ځان ورسوئ